آيا زه تاسو ته د تر ټولو لويو ګناهونو څخه خبر درنکړم

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «آیا زه تاسو ته د تر ټولو لویو ګناهونو څخه خبر درنکړم»؟ درې ځلې (یې دا خبره تکرار کړه) هغوی وویل: هو (یعني خبر راکړه) اې د الله جل جلاله رسوله! ویې فرمایل: د الله سره شرک کول او د مور او پلار نافرماني» او کښناست، پداسې حال کې چې تکیه یې وهلې وه، نو ویې فرمایل: « خبردار اوسئ د دروغو د ګواهۍ په اړه» (یعني ځان ترې وساتئ)، وایي: تر هغه پورې یې دا خبره تکراروله تر دې چې مونږ وویل: کاش چې چپ شوی وای.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د لویو ګناهونو په اړه خبر ورکوي، نو له دې درېو ګناهونو یادونه یې وکړه: 1. له الله جل جلاله سره شرک کول: او شرک له الله جل جلاله پرته بل چاته د هر ډول عبادت کول او د غیر الله سره په الوهیت، ربوبیت، اسماء او صفاتو کې د الله جل جلاله برابرولو ته وایي. 2. د مور او پلار نا فرماني: دا د مور او پلار هر ډول ازارول دي، هغه که په وینا سره وي یا په کړنه، او د هغوی سره نیکي پرېښودل دي. 3. دروغ وینا، چې له جملې څخه یې د دروغو ګواهي ده، او د دروغو ګواهي له هغه دروغ وینا څخه عبارت ده چې موخه ترې د بل چا حق د پښو لاندې کول دي؛ چې یا یې مال واخیستل شي او یا یې په عزت، ناموس او داسې نورو تیرى وشي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په تکراري ډول له دروغ وینا څخه وېرول کړي تر څو یې بدوالي او په ټولنه کې ناوړه پایلو ته د خلکو پام راواړوي، تر دې چې د زیات تکرار له امله صحابه کرامو وویل چې کاش چپ شوی وای؛ پر هغه د ترحم له امله او د هغه کار د بدوالي له امله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زوروي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2941

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee